بسم الله الرحمن الرحيم

# د وطن یادونه

## د شعرونو مجموعه

## سمیع الدین افغاني

sameuddin afghani

Ketabton.com

د کتاب پیژندنه

-------------------------------

د کتاب نوم : د وطن یادونه

شاعر : سمیع الدین افغاني

د چاپ کال: ۱۳۸۲ لمریز ۲۰۰۲ م

د چاپ شمیر : ۵۰۰ ټوکه

خپرندوی افغان ننګ ویب پاڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمپوز او ډیزاین      اجمل اکبري
ټولګه   :              لمړۍ
د چاپ ځای:
د حق د لارې کلتوري ټولنه – جرمني
E-Mail :s-afghani@hotmail.de

**د افغان ننګ د ښکلې پاڼې د قدر وړکارکوونکو په خاصه توګه د اجمل اکبري صیب نه د کتاب د خپرولو او ډیزاین نه یوه نړې مننه ، کور مو ودان ۰**
**سمیع الدین افغاني**

## *سریزه*

*د «وطن یادونه »د سمیع الدین ، سعید افغاني د شعرونو ښکلې مجموعه د پښتو او پښتنو د ځپل شوي ادب په دنیا کې د رنګارنګ ګلونو څه نوې شان ګیډۍ ده چې د شعر او ادب مینه والو ته بې و ړاندې کوي۰*
*سمیع الدین سعید افغاني شاعر دی، د هغه په شعرکې د هغه هیلې ، دردونه ، مینه او ارمانونه ژور ټولنیز ، انساني او بشري رنګ لري۰ د سولې، هوساینې او نیکمرغۍ تږی دی۰ د خپل ځپل شوي وطن د زوریدلي انسان په دردونو او ښکې تویوي ، د کرکې ، نفرت او توپیر غوښتنې پرځای د مینې او محبت اواز اوچتوي د ارمانونو ارمان یې خپل خلک خپله مینه او خپل وطن دی،دخپل وطن په روان ناتار زوریږي او وایي :*

*په وطن مو جوړ ماتم دی          تورتمونو کې مو شپې دي*
*دا د کوم ظالم له لاسه          چه ظلمونو کې مو شپې دي*

*د هیواد د زخمي زړه، کابل په ویرناست دی، له وطن څخه د لرېوالي غم یې د زړه وینې خوري او د پردو پردي کتنې یې د شاعرانه احساس روح ته عذاب شي ، کله د پښتنو خوږژبي ملي شاعر ملنګ جان ته مخه کړي او کله بیا د وتلي شاعر او نامتو ادیب ګل پاچا الفت د ارزوګانو دراژوندي کیدو هیلې پالي، په تیرو ویاړي او په روانو ژاړي او د سولې، وروري او هوساینې په هیله د نفلونو سجدې په غاړه اخلي ، دشکونو او بې باوریو تورو لړو ته زوریږي او همدغه څه د افغان ولس د ناورین د اوږدیدو دلیل بولي ، ومو ویل چې هغه شاعر دی، دشاعر دنیا له ټولو غمونو او دردونو سره سره تنګه ،تروشه او یولې نه وي،درد لري ،سوز لري، ساز لري ، مینه هم:*

*یار چې کړم بیمار د لیونو په چم          دود شوم په انګار د سپیلنو په چم*

*او کله چه غم پرې زور شي نو بیا رندانه د رندانو جمع ته ځي او د خپل زړه خبرې کوي :*

*زه د رندانو او مستانو جمع ته          چه کله ځمه بیرته نه راځمه*
*زه د بد مسته مې خورانو جمع ته          چه کله ځمه بیرته نه راځمه*
*خو زه شاعر پیژنم ، هغه د مستې،رندۍ او میخوارۍ نه وه او نه دی:*

*دردونه ، رنځونه او د روراني زماني د انسان بې غوري بې پسې اخلي او د تیښتې یوه لار لټوي۰ دده په شاعرانه احساس کې د رندانو او مستانو دنیا له درغو ، ریا ، تذویر او سالوسۍ څخه پاکه د مینې او*

(c) ketabton.com: The Digital Library

*محبت دنیا ده نوځکه هغه لوري ته مخه کوي او چه هلته دردونه او پیالې سپکې ویني نو ساقي ته په ملامت کې وایي :*

*ساقي تاثیر دي په پیالو کې نشته — ځکه چه خوند يې په نیشو کې نشته*
*هسې مې بوزه د مستیو لور ته — چې د جنت په کنارو کې نشته*

*د شاعر کلیوالې سندرې چې د ملنګ جان د ملي نارو اثر پرې پروت دی خپل ځانګړی خوند او اشنا موسقي لري. د بنجاره بنجاره په نارو کې د وطن تیر یادونه پالي ، د حسنونو سوداګر مخې ته دریږي ، د نارنج د ګل په یاد د ښکلي ننګرهار یادونه کوي او د همدې محلي سندرو په لړ کې د خوږ ژبي محلي شاعر بهایي جان د «شیر او شکر» سندرو په سبک د خپل پردیسي ژوند سندره بولي او وایي :*

*ځه چه ځو بهر ته سېل به وکړو د ملکو — تو هم بیا برو ګلم تو هم بیا برو*
*نه ځمه بهر ته ځما خپل وطن یادیږي — څه کړم عبث ژوند دی په وطن کې د پردو*
*تو هم بیا برو ګلم تو هم بیا برو*

*د وطن یادونه د درد او احساس سندرې دي ، ژبه یې ساده ، روانه او بې تکلفه ده. په دغې ښکې رنګینه ډالۍ کې د رنګ رنګ ګلانو ښې شته او په همدې وجه ده چه د هر لوستونکي ادبي تندې ته یو څه لري. داشیبه چې زموږ په ښکلي تاریخي وطن د پیړیو پیړیو زړه خپسه را خپره شوې او د وطن ډېره ستره انساني پانګه مو د پردیسۍ په نیولې دنیا کې د خپلو هیلو جنازو ته ناسته ده ، همدا د هیلو دردونو ،میني او ارمانونو کوچنۍ ګیډۍ هم لو یه ډالۍ ده.*

*په ډیره مینه*
*شاه محمود حصین*

## د لوی او ښېونکي خدای په نامه !

لکه څنګه چې ټولو ته څرګنده ده په وطن کې د دوو لسیزنا خواله جنګي حالت او ورور وژنې په نتیجه کې زموږ ډیر شمیر وطنوال شهیدان او ډیر نور بیا دې ته اړشول چې خپل پلرنۍ کلي او بانډې پریږدي او د پردو په وطن کې د پریسۍ او مهاجرت ژوند اختیار کړي.

دا یو څرګند حقیقت دی چې په پردي وطن کې د خپلو دودونو او رواجونو څخه لرې د نورو د ارادې او ادارې لاندې ژوند کول زموږ په هیواد وال و خپلې منفي اغیزې او تاثیرات لرلې چې دغه حالت تر هر څه د مخه د هنر او ادب مزي ځپلي دي . د مهاجرت څپیړو لکه د نورو افغانانو په شان زما مخ هم را شین کړی دی او د ناخوالو سره لاس په ګریوان د غم شپې سبا کوم نو چې کله کله دزړه خواله مې د قلم سره شریکه او د زړه تسکین مې د اشعارو په لیکلو سره وشي ، دغه لنډه شعري مجموعه د همدې هیلې ژوندۍ بیلګه ده.

پدغه مجموعه کې د حماسي اشعارو تر څنګ د وطن د کلو او بانډو ، پرګنیز کلتور په نظر کې نیولو سره محلي اشعار راوستل شوي دي چې زیاتره یې د خوږ ژبو هنر مندانو په خوږو او ازونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې کمپوزشوي دي اويوڅه نوريې بيا برسيره پردې چې په مشاعرواودليکوالوپه علمي سيمينارونوکې دکلمه شويدي بلکه د وطن څخه بهر په افغانې مجلو او جرايدو کې چاپ ته رسيدلي دي٠
زه پدې برخه کې لازمه گنم د هغه دوستانو څخه چې ددغې مجموعې په چاپ او تنظيم کې يې له ما وه سره راټول سره مرسته کړې اوزه يې دې ت هڅولی يم چې ټول هغه څه چې مو په لاس کې وه سره اوترتيب کړم مننه وکړم ،هيله لرم چې دا لنډه تحفه د محترمو لوستونکو د توجه وړ وګرځي ٠

د لوستونکو د نيکو نظرياتو په هيله٠ په درناوي
« سميع الدين «سعيد افغاني

## د وطن پــه ياد

پــه وطــن موجوړماتم دی
تــورتمونو کې مو شپې دي
دا د کـــوم ظـــــالم له لاسه
چې ظلونو کې مو شپې دي
*** ***
ګــران وطن راته سوراورشو
دوزخ لمبې تــــري خــيژي
بــل محشرته حاجت نه شته
قيامتونو کې مو شپې دي
دا د کـــــــوم ظالم له لاسه
چې ظلمونو کې مو شپې دي
*** ***
د کـــابــل هــــره کـــوڅـه مو
ښکلي ښکلي خـــــاطرې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس يې وران او ويجاړ کورم
ګــړنګونو کې مــو شپې دي
دا د کــــــوم ظالم لـــه لاسه
چې ظلمونو کې مو شپې دي
١

زوړ او ځوان مو شهيدان شول
څـوک بې پلاره څوک بې موره
د چا کور جوړ قـــــبرستان شو
زيــــــارتونو کې مو شپې دي
دا د کــــــوم ظالم لـــه لاسه
چې ظلمونو کې مو شپې دي
*** ***
افغانان ټول تار او مار شول
څوک په کوزاو څوک په بردي
په وطن کې چې او ســــــيږي
ماتمونو کې يې شپې دي
دا د کــــــوم ظالم لـــه لاسه
چې ظلمونو کې مو شپې دي
*** ***
د اسلام پـــه تـــمه تـــمه
د کـــــافرو کانـي وشـــوې
هـــــيڅ تميز کـولای نه شو
په چـــرتونو کې مو شپې دي
دا د کــــــوم ظالم لـــه لاسه
چې ظلمونو کې مو شپې دي
٢

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنـــــیا ټــوله راته خاندي
موړ په چیغو چـــیغو ژاړو
څه سپین سترګې دنیاګۍ ده
سیاستونو کې مو شپې دي
دا د کـــــوم ظالم لـــه لاسه
چې ظلمونو کې مو شپې دي
*** ***
افـــغانی وطن به جوړ شي
که د خدای مـــــهربانـــي وه
د پـــردو لاس بـــــه لنډیږي
امــــیدونو کې مو شپې دي
دا د کـــــوم ظالم لـــه لاسه
چې ظلمونو کې مو شپې دي
*** ****** ***
دا شعر په کال ۱۹۹۲ د نوید د جریدی
په شپږمه ګڼه کې خپور شو٠

۳

## اروانښاد ملنګ جان ته

د مـــحبـــوب وطـــن په غیږ کې ارام اوسه
زه په بل وطـــن مهاجـــر یم وطن وران دی
هـــغه ســـیمه ، هغـــه خلک ، هغه کلـــي
ټول وران شوی ویجاړ شوی مدفن وران دی
څوک په یونوم څوک په بل نوم دي بیل شوي
د قـــومونـــو او دودونو مســـکن وران دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ســـر را پورته کړه د شعـــر خیال کې ګوره
ګدر وران پیـغلې سرتـــورې ارمان وران دی
د پـــلرو او د نیـــکو پـــګړی بـــی قدره
د خوشحال او د میرویس خوږ چمن وران دی
پـــه درشـــل مو د وطن د ښمن میشته شو
افغاني ولـــس ته ښکلی ګلشن وران دی

*** ****** ***

دا شعر د مرحوم ملنګ جان د څلویښتم تلین په ویاړ په هغه
مشاعره کې چې په ۱۹۹۹ م کې جوړه شوې وه د کلمه شو ۰

۴

## د نیکو وطن

خپـل وطن مو وران شو شو محتاجه د پردو وطن
خوږ دی خلکو خوږ دی د پلارو او د نیکو وطن

دلته مجبـــــوري ده هر قـــدم کې تکلیفونه دي
دلتــــه بې وسي ده هرې خـــوا ته پېغورونه دي
بل غـــوندې قانون دی مایوسي ده زحمتونه دي

هر قـــــدم پردي دي راته ښــــکاري د میرو وطن
خوږ دی خلکــو خوږ دی د پلارو او د نیکو وطن

څه خو په وطن کې ډېرې شمېره شهیـــدان شول
ډېر نور د آبرو خلک بې کـــوره بې کاروان شول
څوک بیـا په پردي وطن کې پاتې په بیابان شول

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا نسل لا پرېږده چې مــو وران شو دلمسو وطن
خوږ دی خلکـــو خوږ دی د پلار او دنیکو وطن

۵

څو مره شو بې قدره په بل ملک کې چې او سیږو
دلته هر قــــدم کې د افغـــان په نوم زوریږو
ټول عیب په نفـــاق کې دی په دې هم نه پوهیږو

وران شو د شملـــو وطن د کلـیو او بانډو وطن
خوږ دی خلکو خوږ دی د پلارو او د نیکو وطن

راشئ خوږو ورونو سره یو شـــو د افغان په نوم
څو به دا نفـــاق وي چې بیلیږو این او ان په نوم
لاس د وروري ورکړو د اخلاص او د ایمان په نوم

جوړ کړو افغـــاني وطن د سولې او جرګو وطن
خوږ دی خلکو خوږ دی د پلارو او دنیکو وطن

*** ***
مهاجرت

۶

## اروا ښاد ګل پاچا الفت ته

ستا دالفت ډیوه په لاس وه اوس تیـــارې پریوتې
څکـــــه وطن کې د دردونو افســـانې پریوتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه يو افغـــــان په نوم چې تا وحدت ته بلل
اوس يې په کلي او بانـډو کې دغم شپې پريوتي

د پاک احساس او د ورورۍ خبرې کمې ښـکاري
ځکـــه په سمــــه او ميرو کې اديرې پريوتي

د وطن دښتې او ابادې يا ويجــــاړ ځايونه
په هر قـــدم کې د ژونديو جمـــجمې پريوتي

څومره وحشت او بربريت شــو په بې وزلو خلکو
په اديرو کې په زرهـــــاوو جنازې پريوتي

څوک به يې راټول کړي دا بې زوره زوروره خلک
چې د نيکـــونو افتخار جگې شملې پريوتي

راځئ ای ورونو افغــــاني الفت ارمان لپاره
چې سره يو شو گنې خدائيـــگو معجزې پريوتي

*** ****** ***

د اروښاد گل پاچا الفت د سلم تلين په وياړ



# عبث ژوند

محترمو لوستونکو !

زه يو وخت د مســکو د ښار د پتروفســکي په نامه بازار ته ديو دوست سره لاړم. د بازار په هغه ليکه کې چې افغانانو مالونه خرڅول يو شمير دوستانو ځـما څخه هيـله وکـړه چې د مسکو په بازارونو کې د افغانانو د مشکلاتو په نـظر کـې نيولو سره يو څه وليکې. يقين وکړی کله چې ما دافغــانانو دا حالت وليده ،ډير غمگين شوم، او د افغانانو دغــوښتنې سره سم مې دعبث ژوند تر سر ليک لاندې دغه شعر وليکه.

عبث ژوند

گټه پاتې نه شوه د شيانو پــه خرڅلونو کې
گرځم رينکونو کی! راگرځم رينکونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه خو د بدماش یا خولیګان۲ دلاسه زار یو
څه بیا د پــولیـــسو د زندان د لاسه زار یو
کلـــه بیا رینــک کې د اخران دلاسه زار یو
نیم زړه مو اوبه شـو د دالرو په نرخونو کې

ګرخم رینکونوکې را ګرځم رینکـونو کې

## ۸

څه رانه رینـــک کې ښي او چپ لاس ته ورکیږی
کله بیا په یو کـــارتن کې نیم کارتن برک ۴ خیژی
مال چــې مو تلپـــت ۵ شي هغـــه ټول راتاونیږی
یو بیک مو په شا وي اودوه درې مو په لاسونو کې

ګرخـــم رینکونـــو کـــې را ګرځـــم رینکونـو کې

څـــه رانه مـــوټر او په ټکسي کې مصرف کیږي
څـــه په جـریمه او تـــالاشي کـــې مصرف کیږي
څه د شاګـــردانو همـــکاري کـــې مصرف کیږي
نقدی چې پیـــدا شي هغه لاړ شي مصرفونو کې

ګرخـــم رینـــکونو کـــې را ګـــرځم رینکونو کې

دا ټول مـــجبوری ده چې په ځان مو قبول کړې ده
کار د ناچـــاری ده چـــې په ځان مو قبول کړې ده
ننـــګ د افغاني ده چې پـــه ځان مو قبول کړې ده
سترګې نه خلا صیږي هرسحرمو په خوبونو کې

ګـــرخم رینکونـــو کـــې را ګـــرځـم رینکونو کې

---

۱ رینک ، خلاص بازار ۲ خولیګان ، بدماش ۳ اخران ، د بازار محافظ ۴ برک ، نیمه خراب ۵ تلپت ، هغه مال چې نه خرڅیږی ۰

مهاجرت کال ۱۹۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خوب

ما دوړی پـــادشـــاهـــي خـــوب لیـــدو
چې سرمې جګ کړه زه په جیل کې ومه
زه دجـــیلونو اوکـــمپونـــو مینځ کـــې
د افغـــانـــانـــوپـــه سرخیـــل کـــې ومه

خوب کـــې دخپـــل وطـــن امـــیرومه زه
په خپـــل ولـــس بـــانـــدې زهـــیر ومه زه
وه هـــرطـــرف تـــه تـــول اباد کورونه
پکې ښـــایسته ښایسته د بـــڼ ګـــلونه
ښه راشـــه درشه اواخـــلاص مـــې لیدو
زه د قـــومونـــو په هـــر خـــیل کې ومه
زه دجـــیـــلونو او کـــمپونو مینځ کـــې
د افـــغـــانـــانو په سرخیـــل کې ومه

وطـــن ښایسته ښکـــلی اباد وه زما
د ولـــســـونـــو اتـــحـــاد وه زما
د رنـــګینه بـــاغـــونو جوړ وه وطن
ښه په ښایستـــه وادیـــو موړ وه وطن



چې سرمې جګ کړه دنیا بل شانې وه
د بې وسي ژوندون په سیل کـــې ومه
زه د جیلونو او کـــمـــپونو مینـــځ کې
د افغانـــانـــو په ســـر خیل کې ومه

ثوک دخوا ره خوا خوری ویرته ناست وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نــا امــيد ژوندون تدبيرته ناست وه
عجــب روزګارعجيب خيالــونه وه بد
د نــاروا ښــکــاري چــمــونــه وه بد
ټول وه پــردي پــردي پردي ښکاريدل
دلا مذهــب ښکاري په ښکيل کې ومه
زه د جــيلونو او کــمپونــو مينځ کې
د افغــانـــانو په سر خيـــل کــې ومه

۱۱

د جــوړ وطــن نــه اديری جــوړې وې
د شهــيــدانــو ترتپــې ډکــې وی
ورانـــې جادې وران تعميرونه وه ټول
زړونه ويشتــلي پرې داغونه وه ټول
د خــوړ ژوندون اخــرنی شيبــې وې
د تدريجي مرګــي پــه ټيـل کې ومه
زه د جــيلونو لاګــرونـومينــځ کــې
د افــغانــانـــو په سرخيل کې ومه

د ځــان ځــانيو نـــه نفاق جــوړ وه
د مــرګ او ژوبـلې اتــفـاق جــوړ وه
خلــک وه خــواره او مهاجرهرطرف
د کــور او کــلې مسافــر هر طرف
خوړ افغــانې وطــن مو وران کړخپله
د مرګــنې طــوفان په ټيــل کې ومه
زه د جيلــونو او کــمپونو مينځ کې
د افغــانانو پــه سرخيــل کې ومه

-----------------------------------------------

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهم د مارچ ۱۹۹۸

۱۲

## سجدې

ستــا د رضــا د امیدونــو سجدې
ربه ستا درکــې د عذرونو سجدې
د ګــناهونو نــه منزلــونــه جوړ دي
غــواړم ادا د ګــناهونــو سجـدې
ســتا د غفار کــریم رحیــم له نومو
شــي که قبول د طاعــتونو سجدې
زاهــد ه ځانــله چــې مغروره نه شی
زه یــم پیرو د پــاکو زړونو سجدې
څوک دی عابد ستا د دوزخ له ویرې
څوک کړي سجدې د ثوابونو سجدې
چې مسلمان دی او قایم په خپل دین
کړي پنــځه وخته د فرضونو سجدې
که افغاني وطــن کــې صوله راغله
زه بــه ادا کــړم د نفــلونو سجــدې

***********************
کال ۱۹۹۸

۱۳

## شکمن

چــې د چــا یمــه همــراز د چا شکمن
یم د چــا د ســترګو خــار د چا خوږمن

(c) ketabton.com: The Digital Library

زماني چې خپلې لوبې په ما وکړي
یم د چا سره او س دوست د چا دښمن

د ریا او صداقت تو پیر لږ شوی
یم د ځینې اشنایانو ګیله من

هرسړی چې تر مطلبه پورې یار شو
اعتبار په ځینو نشته عزت من

څه دنیا شوه څه روزګار او څه يې خلک
څوک د چا په ښو کې ندي رضامن

افغاني پام چې د زړه راز ښکاره نه کړي
په ظاهرو او باطنو یم شکمن
*** ****** ***
۱۹۹۲م



# کوم اختر؟

زموږ د کلي د تروږمۍ ماښام څخه څوشيبې د مخه د کلي يو تنکې لس کلن هلک خوشحاله بريښيده، د هلک د خوشالۍ علت يو هم دا وه چې هغه د سبا ورځې د اختر د راتګ څخه خبر شوي وه. هلک ته د هغه مور او پلار د اختر لپاره نوي جامې، څپلۍ او واسکټ رانيولي وه چې هغه په همدې ماذيګر قضاد سبا ورځې نوې جامې او دنورو دي دوستانو د اختر مبارکۍ تحفې په خپل وجود کې تمثيلولي او همدا وجه وه چې هلک ته يې خوشحاله بڼه ورکړې وه، په رښتيا سره کوم اختر چې ما شوم ته سبا راتلونکې وه، نه تنها هغه ته بلکې د کلي ټولو اوسيدونکو ته يې د خوشحالۍ زيرې ورکاوه.

هو، کوم اختر؟ د کوراو کلي اختر، او که د مهاجرو اختر، کوم چې د خپل کور، کليو او بانډو څخه لرې په پردي وطن کې لمانځي؟ دا يو څر ګنده خبره ده چې اختر هر چاته هرچيرې او په هرځاي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې چې وي پوره او یا نیمه خوله خندا او خوښي وربښي.

۱۵

## نوا اختر کوم اختر؟

دا دځـوانـانـو دخـوښیوا اختر
د پیغـلو نجـنو دټـالیوا اختر
دکــور او کــــلـي اخـــتـر
چـــې لـور دودونـــــه لــري
د ســپــوراو پــــــلی اخــتر
ښــه رواجــــونــــه لـــري
دا د خــوښیــوا ټــنــونوا اختر
دا دخوشحاله ســرودونوا اختر
دی دبیوزلوکونډو رنـډوا اختر
د یتیـمــانو او بــربــنډو اختر
د غریبــانو او خـــانـــانو اختر
د مسلمــانودینــــدارانوا اختر
وي مبارک دې په تمـامو خلکو
وي برکـت دې په تمامو خلکو
ښه افغاني دود او رسمـونه لري
خدایګوچې ښکلي رواجونه لري
*** ***
۱۹۹۸ کال مهاجرت
۱۲

## د خواست یاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه ایلمه پسه وي اشنا وریجې دالري غواړي
رنګ په رنګ کالي غواړي

زه خو د بازار خړو ګردو په رنګ تور کړی یم
کور ځیښتن د کوره هم څو ځلي جواب کړی یم
دلته پـــردي ملک کـــې دا حالا تو زورولی یم
هیڅ پروایې نه شته اشنـــا خپله حسابي غواړیي
رنګ په رنګ کالي غواړي

د مره زه ګټم چې یـــې مصرف کړم اولادو سره
دا چې سر ګردان یم هره ورځ ترلمرولیدو سره
لاس په ګریبان ګرځم خپـــلو جړو حسابو سره
نه ور معلومیږي د پردو سره سیالي غواړي
رنګ په رنګ کالي غواړي

۱۷

اوس چې د بازارونه ورځ له ورځې خـــرابـــیږي
مال مو مخ ته پروت دی دم په دم ساحه تنګیږي
ټوله دنیا غم شي اشنا سر پرې نه خلاصـــیږي
خپل خپلوان یې راشي د کشمشو قابلي غواړي
رنګ په رنګ کالي غواړي

یو خوا پردیسي ژوند ډیر بې حده زورولـــی یم
بل خوا په وطـــن کـــې دا نـــا خوالو کړولی یم
ژوند دی چې تیریږي تکلیفو بې وسې کړی یم
داسی یو حالت ته قـــوي عزم افغاني غواړي
رنګ په رنګ کالي غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

*** ****** ***

کال ۱۹۹۲

۱۸

## سوز

یار چــي کړم بیمار د لیونو په چم
دود شوم په انګار د سپیلنو په چم

تورو تــورو سترګو حیانــاکو دي
ویــوړه رانــه زړه د زوریدو په چم

مستي ستا د سپین مخ له رڼا ځیني
شپه شوه راته ورځ ستا د شغلو په چم

یــاره د یــو خـوږ نظر پــه تمه دي
یم په انـــتـــظـــار د تیر وختو په چم

ستـــرګي د امید مي درته پاته دي
مړ کړه را ژونـــدی د قصیدو په چم

ســـم د افغاني دود او دستـــور سره
خپـــل به شي نـــګار د مرکو پــه چم

---

کال ۱۹۹۷

۱۹

## مستي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه د مستانو او رندانو جمع ته
چې کله ځمه بيرته نه راځمه
زه د بد مسته ميخورانو جمع ته
چې کله ځمه بيرته نه راځمه
د چتو پيغلو ښاپيريو ښار کې
د چا نظرته چې ورځمه بيرته نه راځمه
يم د رندانو ميخورانو جمع کې
نو ميکدې ته چې ورځمه بيرته نه راځمه
د مينانو دهوس دنيا او....
لوی سمندرته چې ورځمه بيرته نه راځمه
مالي دې ښاد وي بڼ گلزاره مدام
د گلوسيل ته چې ورځمه بيرته نه راځمه
افغاني پوه کړه دا ساقي په رمز کې
چې يې پيالو ته کله ځمه بيرته نه راځمه

*** ***

کال ۱۹۹۷



# خمار

ساقي تا ثير دې په پيالو کې نشته
ځکه چې خوند يې په نيشو کې نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library

یـــا د خـــوږو ترخو تو پیر دې لږ دی
یا چیرې رنـګ دې په ترخو کې نشته

چـــې د محفل یاران خـــمار پاته دي
ښایــــي تادي دې په پیالو کې نشته

۲۱

هسې مـــې بوزه د مستیـــو لـــورته
چې د جنـــت په کـــنارو کـــې نشته

چې د غمـــونو مې بې غـــمه کاندي
دا سی حالـــت چه لیونو کـــې نشته

دا چې مـــیخوره لـــیونی مـــی بولي
اوس دا مـــقام په ارزیدو کې نشته

چې مې حالت د لیونتوب معلوم کړي
ساقي دا راز دې پـــه فکرو کې نشته

خـــمار خـــمـــاردی افغاني د کلو
نور یې طاقت په صبریدو کې نشته

---

کال ۱۹۹۸ م

۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بنجاره ماما

نورشيان يې ډيردي دا پايزيب يې ښومره ښکلي دی
مورې بنجاره ماما راغلي دی

مورنه پيسې غواړي چې پايزيب يې ډيرخوښيږي
رنګ رنګ سيخکونه په اوربل يې هوسيږي
عطر شام پاريس يې په دماغ ډير ښه لګيږي
نقدی پيسې نه وی ماما پور په ځان منلی دی
مورې بنجاره ماما راغلي دی

اخلي دنداسه چې دنداسه يې ډير خوښيږي
سرې شونډې چې ګرځي نو اشنا ی خوشحاليږي



تورې تورې سترګې په کجلو ښه ښکاريږی
سرو زرو چارګل ماما په برجب کې ساتلی دی
مورې بنجاره ماما راغلي دی

ځان چې يې سينګارکړه بيانوځي نوردګدر په لور
مورې د همزولو سره نن دمازديګر په لور
ډير به شي خوشحاله چې د يار شي دنظر په لور
اچوی ټکريې چې افغاني کلتوريې ښکلی دی
مورې بنجاره ماما راغلي دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

-----------------------------------------------------

دا شعر د طــاهر شباب په ښکلي اواز کــې کمپوز شــوی دی٠
١ بنجاره يا قوال هغه پلورونکی دی چې پنډ په شاه له ځانه سره تارستن سرخي ،سفيده، رانجه او
نور ضــروري شيان کـلي په
کلي ګرځوي٠

******** *** ***

کال ١٩٩٧م
مهاجرت

٢۴

## د حسنونو سوداګر

د حسنـــونو سوداګريـــم شرابـــی حسن په څو دی
چې معياريې خال او خط وي کتابي حـــسن به څودی

چې خوشحال يې هسې ستايي افتخارپرې شاعران کا
د تـــرکانو د خـــوبانو ګـــلابـــي حسن پـــه څــودی

چې د سترګو په ښکـــلايـــې ټول عالم په مسيدو دي
د قـــفـــقاز د هســـکو پيغلو عنابي حسن په څو دی

چـــې عـــالـــم ورته سلا کـــا ښاپيرۍ ورته حيرانی
د سلاويانو په وطـــن کې ارزانـــي حسن په څو دی

نورستـــان په سر درو کې د هلمند رود شاو خوا ته
د قندهـــار کلو باڼو کــې نوراني حسن په څو دی

د ښکـــلا او د حسنونـــو په بازار کـــې هسی ګرځم
چې بازار يې څنګه خـــوږدی افغاني حسن په څودی

-----------------------------------------------------

(c) ketabton.com: The Digital Library

کال ۱۹۹۷

۲۵

# وطنی مصری

دوطـن غـیـرہ کې مې کـور دی
ماته پردي مالت کې خوب کله راځينه
دوطـن خـاورې بـه رانـجـه کـړم
دا پردیسی ژوندون مې هردم زوروينه
چـې مـو تـاریـخ تـه نـظـر وکـړو
جګې شملې مـود پلرو رايادې شينه
دا مـو پـه خـپله پـه ځان وکـړه
چې د پردو په لمسون خپل کوروړانونه
راځـی چـې خپل وطن اباد کړو
ترڅو بـه ګالـو د پـردیو پیغورونه
وطن د ټولو شریک کور دی
دا دشمنان مو په قومـونو بيلوينه
د اتفاق نه هرڅه جوړ شي
راځی چي يو کړو افغاني خواره قومونه
*** ****** ***
کال ۱۹۹۸ مهاجرت

۲۶

# د وطن اتلان

ستا پـه لـوړو غرونو د افغان بچي
جوړې کارنامې کړې قهرمان بچي

ټينګ يې په دښمن باندې ګوذاروکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

و مـې لید ډګر کـې پهلوان بچي

سوله یې شعار ده مخ په وړاندی ځي
دوی دي په تصمیم کې با ایمان بچي

ساتــي خپل وطن لوړ شجاعت لري
دا د تـورې پرېښ او د میدان بچي

باسي کشتۍ خپـله د ساحل په لور
دا د طـوفانــونــو د دوران بچي

دوی په افغاني غیرت نازیږي تل
دا د صــداقت او پاک وجدان بچي
*********
کال ۱۹۹۸



# یادونه

په زړه کې مــې یادیــږي د اشنا ښکلي یادونه
د تیری زمانــې کیسې پــخوا هغه وختــونه

په سروشونډو ملالو به یې نیشه ومه بې خوده
وطن چې یادوم ورسره جوخت دي ستا یادونه

نن بیا د خدای لپاره په احوال مې لږ خبر کړه
تر څو به دا غربت وي او تر څو به دا نکلونه

مزار ته چې مې راغلــي اشنا دا لره په یاد کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تورو خاورو څنګ ته مې تازه کړه تصو یرونه

دا نن چې افغاني یمه مجرم پــه کــوم ګناه زه
د خلکو په وطن کــې بــه ترڅــووي دا غمونه
*** ****** ***
کال ۱۹۹۸
۲۸

# دنارنج ګل

چه موســم یې د نارنج دګــل بهارشي
را په یاد مې هغه ښکلی ننګرهارشي
د نرګس، ذنــبق،نارنج د ګل له فیضه
زړونه مست په نخیدود هردلدارشي
ننګرهار زموږ د ښکلو ګــلو ښــارکې
په سپرلي کې دشاهی د بڼ دربار شي
د ربــاب او د بلــبل خــوږو نغمو کې
خوشحالي شی جم اوجوش بڼ اوګلزارشي
ځومره ښکــلې ښه فضا د طبیعت شي
رنګینه ښایسته ګلان د پیغلو هار شي
ښه فــضا شاعرانــه شــي هــرې خواته
افغاني ګــلشن کې ښکلی لاله زارشي
---------------------------------------------
دا شعر په ۱۹۹۸ کال دلیمې په مجله کې خپور شو۰
کال ۱۹۹۸

۲۹

# خپل وطن

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه چې ځو بهر ته سیل به وکړو د ملکو
تـو هـم بیا برو ګـلـم تو هـم بیا برو

بیا که بریم ګلیم درخارج عـجب روزګار است
رنګ برنګ موتر و سرویس ها قطار قطار است
ماهـی یـی کنسرو کـتی پـیوه مـزه دار است
مـیـریـم سـویـدن ، استـرلیـا تـا بـه پـیرو
تو هـم بیا برو ګلم تو هم بیا برو

نه ځـمه بهـر ته ځـما خپـل وطن یاد یږي
زړه مې د کابل کلو باندو نه نـه صبر یږي
هر مازیګری د شهـرنو مـې نـه هیـریږي
څه کړو عبث ژونـد دی پـه وطن کې د پردو
تو هم بیا برو ګلم تو هم بیا برو

هر طرف جـنګل و سر سبزی شده بسیار
هر جایی که میری کس به کس نداره کار

٣٠

بپـوش مودی روزه کتی مه برو بی خار
میریم به سرکس ویګان وقت به کازینو
تو هم بیا برو ګلم تو هم بیا برو

نه ځـمه بهرته موراو پـلار مې په وطـن کې دي
زړه مو ډیر زوریږی شهیـدان مو په مدفن کې دي
خلک موټول تباه شو دښمنان مو په درشن کې دي
رب دې فـضـل وکـړي دوطـن پـه شا ځلـمو
تو هم بیا برو ګلم تو هم بیا برو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګراني زه پــوهيږم ستا احساس د قدر وړ دی
هر سړی په خپل وطن کې د روند او مکمل دی
غــوا ړو افغاني وطــن زمــوږ دغه تــکل دی
خدای دې کړی نصيب زموږ د خپل وطن ابرو
تو هم بيا برو ګلم تو هم بيا برو
*** ****** ***
دا شعر په ۱۹۹۷ کال کې د اتحاد او عمل د نشريې
په دوهمه ګڼه کې خپور شو۰

## ۳۱

## اروا ښاد اسحاق ننګيال ته

چــې خبــر شو مه په مــرګ دځوان ننګيال
شوم غمګــينه زړه خــفــه شو بې مجال

د احساس تاثير په قلب د هر شاعر وي
ستا وه ښکــلې مرتبه د نــازک خيال

د وطن ورانــی هرچاته بې هيڅ نه وي
څوک په سره مرمی شهيد شی څوک په چال

دردونــکــې جــنازه ډک لــه احساسه
خــښوي دوطــن ځــوی دی بــې مثال

## ۳۲

تر ابــد ه به وي مــلاست په تفکر کې
دا زموږ د زړه همراز اسحاق ننګيال

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا په مغز او تفکر کې اوس باقي دی
هغــه شعــر هغــه نــثر هــغــه خــیال

پیرزو مشه دا سې مرګ د چا دښمن ته
چــې وطن یې ورته خوږ وي په هر حال

رب دې تــا ته جنتونه در نصیب کړي
مــرتــبــه دې تــل بــلنــده د کــمــال

افغاني وطــن تمــام مرګی مــرګی شو
بیا داغداره شــو زړګی دی په ننګیال

*** ****** ***
کال ۱۹۹۸

۳۳

## زړګي ته

زړګــیه ښــکــاري کــم قـــوتــه شولې
د ژوند تــرخــوته نا تــاقــتــه شــولې

ځــوانــي دی لاړه د غـــمـــونـــوسره
اوږدو مــنــزلــوته بې همــته شــولــې

زه د کـــلونــو امــیــدونــو پــه لــور
تــه نیــمه لیارکــې بې جــرته شــولــې

لــری مــنــزلــونــه دي دلــرې اشـــنا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ور رسیـدو تـه کـم قـوتـه شـولـې

لکه چـې ښکـاری اخــري شیبې دي
اوس خپل تصمـیم کې مـلاتـه شولې

افغاني خپل ژوند ستا په ژوند کې وینی
ښکاري جـدا چـې تـرقیـامته شولې
*** ****** ***
کال ۱۹۹۸
مهاجرت
۳۴

## مینه

خوږې سترګې د جـانان
زه پوه نشوم په خپل ځان
زړه بې ویوړه په یو ان
نور به نه ترینه راځمه ،نور به نه ترینه راځمه

پـه خـمـارو سترګو یارکـتل کوي
پټه مـینه بـې پـه مـا اثـر کوي
اشنا ګران دی خدای دې نه جدا کوي
ښایسته زلـفې پریشان
قـد یـې سروه د بوستان
څه ښایست دی د سبحان
نور به نه ترینه راځمه ،نور به نه ترینه راځمه

راته ګـرانه زما ښکـلې مـحبوبا
ښایسته مخ یې لکه ستوری د سبا
کړم صفت یې پـه عـالم کې برالا

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳٥

موزون قده خـوش اندامه ده ليلا
غـنم رنـګه خـوش زبان
شکـر لبـه تـور زلـفـان
سپين غاښونه يې مرجان
نور به نه ترينه راځمه ،نور به نه ترينه راځمه

چـه پـه مـينه ،ميـنه کـړمه يې صفت
زه به جارکړم تـرينه خپل حسن صورت
اشنا ګران دی خدای دې نکړې خجالت
څه شرينه خوش زبان
څه ښايست لرې پنهان
افغاني لبـاس پرځان
نور به نه ترينه راځمه ،نور به نه ترينه راځمه
*** ****** ***
کال ۱۹۹۸ م

۳٦

# سينګار

محبوبې ښه سينګاردې کړی دی
صـنمې اور دې لـګولـی دی
ځـان بـه له تـا سره اشنا کړم
تـل به دې قدر په رښتيـا کړم
ګـلې زړګی دی رانـه وړی دی
صـنمـې اور دې لـګولی دی
لـه خمـارو سترګو دې جار شم
کـړم افتـخار چه زه دې يار شم
څه شيـن ټـکری دې اچولی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

صنمې اوردې لــګــولــی دی
دا افغاني ستــا خدمت ګــار دی
د تورو ستـــرګـــو خـــریدار دی
دا خوږ زړګـــی دې پرې چولی دی
صـنمې اور دې لـــګـــولـــی دی
----------------------------------
دا شعر د احمد جاوید شریف په ښکلي اوازکې
کمپوزشویدی.
کال ۱۹۹۲م
۳۷

## شین خالی

ځـــه ښکلا ځـــه نازونه یـــې دی
تور اوربـــل شنـــه خالونه یې دی

ځګه ونـــه شمشادیې قامت دی
ده مغروره شاهین یې صفت دی
نـــاز ادا فـــریـــبونـــه یې دی
تور اوربـل شنـه خالونه یې دی

چې کتل کړي په ناز لکه حوره
ښکلی مـــخ یې ځلـیږی له نوره
شوخ نـــظر ســترګکونه یې دی
تور اوربـل شنه خالونه یې دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې لــه ورایه په ناز ناز کتل کا
په زړګي مې د غشو ویشتل کا
جـــادوګـــر منترونه يې دي
تور اوربـل شنه خالونه يې دي

افغاني حسن جوړ شنو خالو دی
چې يې وړی زړګی په پلمو دی
پراتـــه زړه کې غمونه يې دي
تور اوربــل شنه خالونه يې دي

*********





## د خوب تعبیر

دا د مرګ د خــوب لیدل وه؟
که د ژوند د خوب تعبیردی ؟

خوشحـــــالي وه او جشنونه
خط او خــــال وه او حسنونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په جنت کې مـی نـــــوشي وه
د ذاهـــــــد و بد مستي وه

عنطهور شراب څښـــل کيږي
نه ګناه ثـــــــواب چليږي

۴۰

هلته حورې په نڅـــــا وې
د غلمـانو پـايـــــــکوبي وه

ايمـــانـونه په نڅـــــــا وه
ثوابــــــــونــه دي رقصيږي

ټول جنت کې خـوشحـالي وه
د ذاهــــــدو بــد مستي وه

تــــول وليـان وه او پيران وه
څوک صـادقه مومنـــــان وه

په مستيـــــو کې سجـدې وې
د ثـواب کيسې پـــــخې وې

دا د مرګ د خـــوب ليدل وه ؟
که د ژونـد دخـوب تعبير دی ؟

*** ****** ***

کال ۱۹۹۲

۴۱

# تير يادونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خړ سیندونه سیلابونه مې یادیږي
د وطن شنه شنه فصلونه مې یادیږي
د ودونو او دودونو رواجونو
ها دیرې ها مجلسونه مې یادیږي
سندریز خوږې نغمې د حجرو مینځ کې
ها ګیسونه او کټونه مې یادیږي
د مرغیو ګڼه ګونه او سیلونه
د چق مق ټوپک غږونه مې یادیږي
د قزلاقو او یارمخچو په موسم کې
د دامان د غره دامونه مې یادیږي
د چتکو او مړزو جال په لاس کې
هغه لوی لوی کمندونه مې یادیږي
په جوزا کې د توتانو په موسم کې
د فصلونو درمندونه مې یادیږي
مصلی او د درمند شاخې په لاس کې
تور چنګړ لوی لوی چجونه مې یادیږي

۴۲

د دهقان په لاس چې تیګه د میزان شي
لپکۍ او خجورونه مې یادیږي
د چینی نه د اوبو منګې په سر کې
ها د پیغلو کتارونه مې یادیږي
مړ اوبل داوربلکو الوتنې
د بامو د سر خوبونه مې یادیږي
په اختر کې د ځوانانو ډلې ډلې
ها میلې او اتڼونه مې یادیږي
د پی مخو ښکلو پیغلو بیر او بار کې
هغه لوی لوی زیارتونه مې یادیږي
رنګ په رنګ ښکلې جامې د طاعتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مسجد کې ښه وعــذونه مې یادیږي
څومره ښکلې څه ښایسته کلي بانډې دي
جــم او جــوش د بــازارونو مې یادیږي
یــادول یـــې زیــاتــوي د زړه دردونه
افغاني هــا تیر وختونـــه مې یادیږي

-----------------------------------------

۱۲-۱۲-۱۹۹۸
مهاجرت
۴۳

# خاطره

یاره خوږ مـــې ستا یــادونو ته نــظر شو
ځکــه بیــا مې ددرتلــو هوس په سر شو

د حرم د بــاغ د حــورو غــم کې نه شوم
چې په زړه مې ستـــا د مینې خوږ بشر شو

را په یاد چې مې ستا تللې خاطرې شوې
پوه پرې نه شوم چې سبا که ماز دیگر شو

افغاني پام چې په تلو یې منکر نه شې
گوندې بیا دې په نصیب هغه دلبر شو

*********

کال ۱۹۹۲م مهاجرت

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴۴

# باران

په شیبـــو یې اورو ینه ګلې بیرون باران دی
په لوړو غرو یې اورو ینه ګلې بیرون باران دی
کله باران کله سیلۍ شي
کله بیـــا تالنده ګلۍ شي
بیا تر غرمو یې اورو ینه ګلې بیرون باران دی
د پســرلـی بـــاران وریـږي
لارې کوڅې پرې ټول لمدیږي
په شنو فصلو یې اورو ینه ګلې بیرون باران دی
دا زموږ کلي او کوڅو کې
د بـــارانونو پـــه وختو کې
بیا په هفتو یې اورو ینه ګلې بیرون باران دی
باران را تاو شـــو د تیرا نه
هلته د کوزې پښتونخوا نه
په اپریدو یې اورو ینه ګلې بیرون باران دی
باران نه جوړ شوه سیلابونه
کړې به چـــپـــه کلي کورونه
په دامانو ی اورو ینه ګلې بیرون باران دی
د افغاني کوچاني ژوند کې
هلـــته پـــه لاره د الـــبنـــد کې
په شائلمو یې اورو ینه ګلې بیرون باران دی
مارچ ۱۹۹۹

۴۵

# اغیار

کلـــه بـــه ځـــما ارمـــان تـــر سره شـــي ؟
بـــاغ بـــه مې ګـــلزاره بـــاثـــمره شي؟

کله به خـــمار په ســـر ورجـــګ شمه ؟
پورته د عنقـــا پـــه شـــان وزرې شي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښېرې ګرېوان سم چې په بېديا شمه
کله چې مې ساه په ځان ابتره شي

جيل چې مې دغم داني تسبيح شولې
يدا چې مې راتول د ژوند تغره شي

وې نسم محنت نورد ژوندون ځينې
ماته د فرهاد په شان ککره شي

جوړ چې شو قيامت مې په وجود وجود
هلته به ارمان د يار تر سره شي

*** ***

مارچ ۱۹۹۹ کال

۴۲

## افغان ته

هڅه ده ټينګ عزم ارادې لرې
ګوره د افغان زړه څه اسرې لرې
ځوک دی چې احساس ته قرباني ورکړي
ودانګي مرچل ته عقيدې لري
ژوند ترخو خوږوچه وي پوخ کړي څوک
اوردی د احساس بلې لمبې لري
پوهه هم ښکلا بې ده په زړونوکې
خلکو سره ښې مرودې لري
عمر چې شي تير په ولونوکې
ګوره چې روزګار څه ورځې شپې لري
خپله عقيده قوي تصميم سره
ژوند کې شجاعت راز او مزې لري
مرد وي د روزګار چې سربازي کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سینــد دی که سیــلاب لوړې څــپې لري
مــا یې افغاني احساس احساس کړلو
مینــه د وطــن یــې خـاطــرې لــري

*********

کال ۲۰۰۰م

۴۷

# غزل

محــفــل چې د یارانو ټنګ ټکور سره مزه کا
خوښي او خوشحــالي د کلي کور سره مزه کا

پروا مــې د اشنا پــه ځان منــلې وه نو ځکه
اشنا ســتا یارانه خــو د پیــغور سره مزه کا

د ژوند په اوږدو لارو منزلونو او ستړیا کــې
دا ټول جار او جنجال بیا د زړه زور سره مزه کا

څوک ناست دی غمازي کا څوک د ښکلو سودا کړدی
د ا ژوند او کارو بار بیا لږ څه شور سره مزه کا

ځواني چې مې د یار قد او قامت سره ښکلا ده
خالــونه یې په مخ کې درې ځلور سره مزه کا

دیدن ته چــې د یار په افغاني وعده ورځمه
سور شال یې پلو داره په سر خور سره مزه کا

************

کال ۱۹۹۹م مهاجرت

۴۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د زړه دنیا

نن چې اشنا زما تر خوا راځي
بیا مې زړګي ته مشغولا راځي
چې مخامخ ورته کتلی نه شم
زه ترې شرمېږمه حیا راځي
زړګیه پټه مینه مینه شولې
داسې ښکارېږي بېوفا راځي
د زړه زخمونه به ټکور شي زما
سترګو ته ښکلې تماشا راځي
د ا د خوښي او خوشحالي ورځې دی
چې د شب قدر شپه په ما راځي
چې یې تسل د خوږ زړګی پری وشي
د افغاني د زړه دنیا راځي

******

کال ۱۹۹۲

۴۹

## ګران وطن

دا مو د خاپوړو کلی کور دی
دا مو د نیکو د تورې زور دی
ورک به شي غلیم چې مخ یې تور دی
سر به ترې قربان کړم د بدن سره
مینه مو ږ لرو د خپل وطن سره
دا وطن په موږ باندې ډیر ګران دی
دا زموږ ه خوږ افغانستان دی

لوړ چې په هوا کې یې بازان ګرځي
هلته په ځنګلو کې یې زمریان ګرځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړ په سردروکې يې طوطيان ګرځي
مست يې بلبـــــلان د باغ او بـڼ سره
مينــــه مـــوږ لرو د خپـل وطن سره
دا وطن په مـــوږ باندی ډير ګران دی

دا وطن خوشحال غوندې بچيان لري
دلتـــــه کې نازو انا لمسيـــان لري
لوی احمد شاه سترنوم په جهان لري
ساتو به يې شـــــاړې د چمن سره
مينــــه مـوږ لرو دخپـل وطن سره
دا وطـــن په موږ باندی ډير ګران دی
دا زمـــوږه خوږ افغانستـــان دی

۵۰

وګـــــورئ هرات دی که لغمـــــان
يا که ننـــــګرهار دی که جـوزجان
پورته قـــطغن که بدخشــــــان
غرونه يې ښه ښـــکاري دمعدن سره
مينه موږ لرو دخپـــــل وطن سره
دا وطن په موږ بانـــدی ډير ګران دی

وايي هريرود اوبـه خــــوږې لري
سيند د ارغنـــداب ځګې ځپې لري
ګوره د کنړ سينـــــد څه نخرې لري
جــــوړې ترې بيالې دی د سربن سره
مينه موږ لرو دخپـــــل وطن سره
دا وطن په مــــوږ باندی ډير ګران دی
دا زمـــــوږه خوږ افغانستـــان دی

دا وطـــن زمــــوږه افتخـــار دی
دې کې موعزمت دنيـــــکه پلاردی
دا د افغـاني کلتــــوريادګاردی
لاس په ګريبان ګرځـــوله دشمن سره
مينه موږ لرو دخپـــــل وطن سره
دا وطن په موږ باندی ډير ګـــران دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا زموږه خــــوږ افغانستـــان دی
****** ***
دیسمبر ۱۹۹۹ ویزبرګ جرمني
۵۱

## اروا ښاد سعید افغاني

پــه لــوستــلو اولــو للو
د لوی خــدای په پیژندلو
وه مــصروفــه تل مدام
د علــمیت یــې لوړ مقام
دقــوي تـحلیل خاوند وه
دی د لوی نظـرڅـښتن وه
ډیرعـلمـونه یې لوستلي
کتابونه یي پــري لیــکلي
دا د مــصر د اظــهر نــه
فارغ شــوی لــوی مظهرنه
شو دکــتــور د فــلسفې
هم صاحب شــــو درتبې
فیــلسوف دیني عالم وه
مــدرس اوښــه معلم وه
د عــلمیت یې تــل مدام
مستفید شو خاص او عام
مشرف دخدای پــه کور شو
چې روان دحـج په لــورشو
دی پــه دریشپیتو کــلو
شو وفــات دا عــالم پوه
رب دې ور کړي جنتونــه
د لوی خدای دي قــدرتونه

---------------------

اکتوبر ۲۰۰۰
۵۲

## عزم

ایښی مــې قدم په لری لیار ده بیا
ځمــــه اخــر ګـــام پوري رسیږمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا لیـــاره اوږده ډک لـــه خطره ده
بیا بـــه خپـــل مقام پوري رسیږمه
عـــزم مې قـــوي اراده ټیـــنګه ده
خود به خـپل ارمان پورې رسیږمه
سر مـــې قربانـــي ته لمسولی دی
یا بـــه خپـــل مرام پورې رسیږمه
ژوند سړي تو دې راته ښودلي دي
اوس بـــه د جانان پورې رسیږمه
پوه شجـــاعت قـــوي تصمیم سره
چین دی یا که شام پوري رسیږمه
رب که مـي همت سره ملګری شي
پورته تـــر کـــیهان پورې رسیږمه
ګـــوره افغاني پـــاک ارمانو سره
خود به ســـر انجام پورې رسیږمه
*** ****** ***
۲۰۰۰ –۱۱ -۲ -جرمني



# انسان

د ادم د زړګـــــي ویـــــنه
چي بدله شوه پـــه مـینه
قـــدرت ګـوره د سبحان
چې پیدا یې کــړ انسان
د زمـــان بهـــیر چلـیږي
خلک کلـــه پرې پوهیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

فــرشتــو دی راوستلی

دې دنیا ته انسان ښکلی

انسانــي مــینه انسان

رب پیدا کړه پــه جهان

دې جهان تــه دی حیران

د ادم لمــسی انــسان

کال ۲۰۰۱ اولم جرمني



## ناکام

د ژونــدون پــانه مــې خزانــه شــوله
د زړه دنیــا مــې خــلکو ورانه شــوله

څوک بــه مــزار ته بلې شمعــې راوړي
چه مې د ژونـــدږیــوه پــاشانه شوله

د امــیدوغــوټی مې خلاصې نه شوې
چیغــه مــې پــورته تر کــیهانــه شوله

د اوږدو لارو مـــــنزلــونـــو لــړی
دا څــومره زغرده کــې پریشانه شوله

د نــامـــــرادو ارمــانــونــو کــړی
ماتـــه راوشلــیدلـــه ورانــه شــوله

دا د جــفــا او ظــلــمتــودنیـــاګـــی
د خــوب لــیــدو سره بــل شانې شوله

د زړه یــوه ټــوتــه بــه څــو ټــوټــې شــي
چــه د عــلاج چــاره مــې ګرانه شوله

چــه جــنـــازه مـــې جــګوی مه ژاړی
اوس مــې د رنـــځ چاره اســانه شوله

افــغــاني ګاله د قیــامت ستـــړیاوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چــه دې د ژوند مـــده پـایـانه شــوله

*** ***

اګست۲۰۰۳ مهاجرت

۵۵

## ګیله

نشته د خـــوښی خـــبرې دلته کې
پاتې د وروری خــــبرې دلـــته کې
هر سړی په خپـــلو خولو لوند وينم
دي د بی کـــسی خــــبرې دلـته کې
څوک چې ښه روزګاريا ښه دولت لری
کاندی د مستی خــبرې دلـــته کې
بله دنيـــابل غـــوندی قانون دی دا
چـــلی د رندی خــبرې دلــته کې
هيڅـــوک دلته هيچا سره مل ندی
دی د مـــايوســـی خبرې دلته کې
خـــپل درته پردي پردي کتل کوي
کم دی د خـپلوی خبرې دلتـــه کې
هغه چــې اخلاص اوصميميت به وه
تـــللی پـــخوانی خـــبرې دلته کې
دروـمـــه افغاني په خپـله ليار پسی
نشتـــه وطنی خبـــرې دلتـــه کې

*** ***

اپریل ۲۰۰۰ مهاجرت

۵۶

## غم

ډوب پـــه تصـــــور کې د اشنـــا يمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس تر زنې ناست چې تر سبـــــا يمـه
مـــه څېرئ دردونه ځمـــا مه څېرئ
پرېږدۍ چې اختــه په خپل سودا يمه
مـــا د ليـــونو پـــه کلي ورولی
زه هم لېــونی د خپـــل ليلا يمـــه
سرمې د منصورغونــدې په دار شـه وه
نه چې د خپــــل يار ځينې جــدا يمه
نکړي د زاهــــد جـــادو په ما اثر
زه خـــوار ازلي ډوب له ګناه يمـــــه
اچـوم کچکـــول بيا د بهلـول څنګ ته
ځم د خپل اشنــــا ددر ګـــدا يمـــه
ژوند مـــا افغاني په غم کې تېر کړلـو
زړه مې شو پلی په خـــوله خنـدا يمه

*** ***

ماين اشف جرمني
جنوری ۲۰۰۱
۵۷

# جهانې ته

پـــه ســاده روان نظــمونـــو
په پـــخو خـــوږو نـــکلونـــو

دې پـــخې خـــوږې خـــبرې
کـــه امـــيل د مـــلغـــلرې

چې هررنـــګ لرې خوندونه
پـــه زړه پـــورې ښه طنزونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

در سـپړي درتـه رازونـه
تـجـربې دي هـم پـندونه

نـمـونـې دي داحـساس
دي پسـند د عام او خاص

پکې پروت دی لوی حکمت
د باري د شـعـر صـفـت
*** ***
جرمني سپتمبر ۲۰۰۳ م
۵ ۸

## میپرست

زه سـاقي او می خانې سره اشنا یم
ځکه اوس د ټـول غمونو بې پروا یم
نصیحت په ما د هیڅ چا اثر نکړی
زه په خپله په نیشو کې غټ پیشوا یم
سم او بد هسې چې ما دي پیژندلـی
په خپـل عقـل د ذاهـد ه زه دانا یم
رنګـینې د میخانې سره عـادت یم
په مـستی کې د ساقې د زړه دنیا یم
د رندانو او مستانو په حساب کـې
حساب شوی یم نه اوس بلکه پخوا یم
چې ساقي د میخانې سره مې راز شو
زه تـر نورو هوښیارانو مستثنی یم
افغاني چې په نیشو کـې څه لـیدلي
په خمـار کـې په هغه لـیدو سلا یم
-----------------------------------

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنـــوري ۲۰۰۴ م

۵۹

## پل دی بختور شه

شپـــې دې د برات شـــه شـــه کلــــونه دې اخـتر
پـــل دې بخـــتور شـــه ناوې پـــــل دې بخـــتور
پل دې بختورشـــه ناوې مـــینه کـې دې کورشو
نوې اشنـــایي شــوه نــوی بـــل د مینـــې اور شو
ستا د حسن شـــمعه چـــې روښانه په هـرلورشو
حســـن دې ښـــکلا دې چـــيرې مـه شـــه د نـــظر
پـــل دې بخـــتور شـــه ناوې پـــــل دې بخـــتور
نن چې دې محفل کـــې خوشحالـــي ده هم خـندا
خوښـــې دې هـمزولــې دي په مـــينه کـړي نڅا
يـــې د نجــونو مـــيره ټـــول دا ستا په تمـــاشـا
رب دې په نصيب کړه په ژوندون کې زيب اوزر
پـــل دې بخـــتور شـــه ناوې پـــــل دې بخـــتور
ناوې نوی ژوند کې خوشحالي دې شه نصيب
کوردې بختورشه خورې اشنـــا دې شه طبـــيب
اور يې چې بلـيږی پاک الله يې شـې قريـــب
وی دی په امان کـــې افغـــانـي ښـــکلی بشر
پـــل دې بخـــتور شـــه ناوې پـــل دې بخـــتور
جنوري ۲۰۰۳ م پيښور

۶۰

## پاکی هيلی

هغـــه څـــه چې مو په زړه کې هو سيږي
زمـــــورې هيــــلې دي منزل ته به رسيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغـــــه هيلې ډيرې پاکې او سوچه دي
چې ملګري مو د ژوند او همیشـــه دي

دا ژوندون د امیـــد ونو لوی جهان دی
ځکه تل په هلــــــو ځلو کې انسان دی

د مادي دنیــــــا متـــاع پسې به ګرزي
خو اخر به د نیستۍ په طـــــرف پرځي

چـــــا چې بل انسان ته کړی دی خدمت
دا حتمې ده چې بیا مــــومي بـــه عزت

ځینی شته دا سی کسان چې مُضري کا
چې تاوان درته رسیږي خوشحـــالي کا

دوی په خپلـــه په تلاش کې د ضرر دي
خـــدای وهلي ځان نه کلـــــه با خبر دي

۷۱

څوک چې چـــاتـه کوهي کني هغه خپله
په کـــوهي کې به یې ځای وي تـــل ترتله

چې د بخــــل او کینې نه ،نــــــه مړیږي
ناروا دی هیـــــــــڅ منزل تـه نه رسیږي

تکبر دا د جاهلــــــــــو خلکو کار دی
په دنیا باندې تل کلــــــــه اعتبار دی

پاکې هیـــــــــلې د انسان او انسانیت
درته ښایي که دې ګران وی خپل عزت

د اخــــــــلاص لاره مدام د پیروزي ده
د انصاف تله قـــــــانون د بادشاهي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغـــــاني دا صداقت لوی عبادت دی
خپل قسمت چې در رسیږي قناعت دی

************

جنوری ۲۰۰۴ جرمني

۶۲

# کوډ ګره

چې د ستر ګو په کاته سحر او جادو کا
د ســـحر ګرو ستر ګــو قدر دی په کار

هسې ګـــوري تصور کـې تـــه به وای
د ځواني هــوس يې ښکاري په اظهار

جګه پوزه يې چار ګل ده ښايسته کړې
د ښهـــو څوکې يې جوړې دي په شمار

سپينه خوله سره اننګي ګلابی شونډې
که نصيب دې شوې ترې ونکړې انکار

جـــذبـــه مې د ځواني په تيندکو شوه
د هندودلـــور په ستـــر ګوکـــې په وار

دا د رب د قـــدرتـــونـــو نـــمونه ده
افغـــانـــي غـــم دې کـــوه لرې په کرار
************
بادزون ، جرمني فبروري ۲۰۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نا پایه منزل

نه رسم منزل ته نیمه لیارکې پاته شوی یم
ګوره چې روزګارڅه په پیچومو خیژولی یم
نن چې دامحتاج ژوند سره لاس په ګریوان ګرځمه
دې حالت ای خلکو نور تر پوزې راوستلی یم
نشته چې علاج مې دمرض نه کوم هوښیارطبیب
رادې شي اجل نورانتظار یې سترې کړی یم
پوه یمه په دې چې دا خپل لاس وي دګلونو لاس
زه خو همیشه خپلې راستۍ راپرزولی یم
ناست یم سروبې کې نه کابل نه د لغمان شومه
لاس کې مې رباب دې ډیر د غمه خندیدلی یم
نه مې شته پرواځکه په ځنګ کې مې ځوانان دي
ښه مینه د کار لرم بیکاره پاته شوي یم
پام چې افغاني ترخولې نه اه قدرې ونه باسې
ځکه چې دوستانو دشلغم په تول تللي یم

*******************
کال ۱۹۹۹م

۲۴

# څه په کار

چې د اغیارسره دې یار وي بل دښمن څه په کار
چې دې دمینې طلبګار وي بل خوږلن څه په کار

نـدي مـنزل ته رسیـدلي تل کـاږه بارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې داغزو باريې په سر وي ياسمن څه په کار

چې د درواغجنو سره مل وي په ښارونو ګرځي
د داسې خلکو اشنايي او خوږ چلن څه په کار

دا چې يو ښکلې لعلي پروت وي په ايرو کې د خار
چې د ايرو په مينځ کې پټ وي ځليدن څه په کار

چاره يې څه ده چې خلاصون يې ترينه نه وي د چا
چا چې په خپله په ځان کړي خلاصيدن څه په کار

د بې غرضو مصلحت ته چې غوږ نه شوی اشنا
بيا د مغرضو په دوکو کې غوليدن څه په کار
******** *** *********** **
جرمني فبروري ۲۰۰۴
٦۵

## جفا

راغـــله تهمتـــونه د اشنا په سر
جوړ چې قيامتونه دي ځما په سر

بده اشنايي شوه بد روزګار شولو
يار شـــو پښيمانه د وفـــا په سر

خوب او خيال مې واړه نامطلوب وخوت
يار مـــې راځي نه شو د دنيا په سر

ډيرې هـــلې ځلې مې عبث شولې
شو مه تهـــمتې د دلـــربـــا په سر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما يې افغاني حسن ليدلی دی
خوند يې کړي نازونه د ادا پـه سر

********* *** ***
کال ۱۹۹۹م جرمني



# اوتوبان

نه ځـــما او نـــه دا ستـــا دی اوتـــوبان
داســـې ښکـــاري د هـــرچا دی اوتوبان
رنګ په رنګ ښکلي موټری پکې درمي
هم د شـــاه هم د ګـــدا دی اوتوبان
په يودم چې وړاندی وروسته پکې کيږي
ال،کا،وی تـــه په ســـودا دی اوتوبان
خدای دې نه کړي چې په شتاو۱کې برابرشې
کـــه ماښـــام وي نـــو سبا دی اوتوبان
کـــه يـــو لږه شان غلـــطه پکې وکړی
په هـــمدې ځـــای قـــبرستا دی اوتوبان
ډيرځوانان پـــکې بی وخته شهيدان شول
مـــرګ نه کـــله مستثنی دی اوتوبان
خمـــا واوره د احتياط ځينی کـــار واخلی
نـــه د ټـــوکـــو او خنـــدا دی اوتوبان
چـــې د مرګ او ژوند يوه دقيقه فرق کړی
نو اصـــلي دښـــمن همـــدا دی اوتوبان

---

شتاو دنقليه وسايطو ازدحام يابندښت په اوتوبان يا د ترافيکو
په لوی لارو کې ۰ فبروری ۲۰۰۳ جرمنی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سپین سترګی

منصف نه شو په ژوندون کې د انصاف
په عقبا به څه جواب کړې د مناف
د ګناه پیتی یې دروند دی د هر چانه
هسې اخلي د اسلام نوم په ګذاف
په ښکاره کې مستقیم خلکو ته ښکاری
په باطن کې کوږ او کینږ دی یک اوصاف
حقیقت کې جو دانه ترینه درنه ده
خو ځان دروند ګني همیش ترکوی قاف
په دنیا کې یې یو نیک قدم کینښود
دی ظاهره کې زاهد دخولې په لاف
د رباب نغمه خوږه ده هم شیرینه
غږوي راته سازونه د نداف
افغاني ولس به کله فراموش کا
چاښوي به یې کړه وړه ترچلو صاف

********* *** ***

اګست ۲۰۰۱ مهاجرت

٦٨

## سمه لیار

عزت یې شي نصیب چي ربه ستا په لیارې سم شي

ذلت په هغه چا چي د ریا په لیارې سم شي

تیرېږي قافلې د زمانې نن او سبا کې
سر لوړي به وي څوک چي د الله په لیارې سم شي

انسان لري ډیر لوړه مرتبه تر بل مخلوقه
زیبیږې ورته کړه چي د عقبا په لیاري سم شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذاهـــد پـــه عـبادت رســـې د ذهـــد مرتبې تـــه
سجدې يې شې پخې چـــې درضا په لياړې سم شي

سخي پـــه سخاوت بانـــدې حاصل د زړو رضا کړي
منلی بـــه وي څوک چې د سخاپـــه لياړې سم شي

ژوندون هسي عبث چې تيروي متاع يـــې څـــه ده
پيـــرو د سمې ليار د مصطفا پـــه لياړې ســـم شي

درګا تـــه دې الله زه افغانـــي لاس پـــه دعا يـــم
مطلب ته رســـي څوک چې مدعا پـــه لياړې سم شي

********* *** ***

سپتامبر ۲۰۰۳



## همت

دلبره زه چې ستـــا رضـــا نيسمه
په هر قـــــدم کې مې ګناه نيسمه

دا چې شليـدلی ګريبـان ګرځمه زه
ځـان د مجنـون دګورترخوا نيسمه

پدې ســـاده ذاهد مـې نه شي باور
دين دکعبې د در پيشـــوا نيسمه

پرې نه پوهيږمه چې کوم لوری ځم
کله دنيـــــا کله عقبـــا نيسمه

په بازاري مينـــــه غلط چې نشم
دود د يوسف او ذليخـــــا نيسمه

چې مې باورد خوږ اشنا شي حاصل

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمينې ليار يې پــه رينبتيــا نيسمه
افغـــــاني پـــر پېړده دقسمت خبرې
دهمت ليار به خامـــاخــــــا نيسمه
۲۰۰۵ م کال - دا شعر د طاهر شباب په ښکلي اوازکې
کمپوز شويدي.
۷۰

# د وطن پــــه ياد

(متن به چار زبان)

## شعر و آهنگ زيبای وطنی



شا عر: سميع الدين افغاني
Author: Sameuddin Afghani
خواننده : صديق شباب
Singer: Sediq Shabab

# د وطن پــــه ياد

پــــه وطــــن موجوړماتم دی
تـــورتمونو کې مو شپې دي
دا د کـــوم ظــــــالم له لاسه
چې ظلمونو کې مو شپې دي
*** ***
ګـــران وطن راته سوراورشو
دوزخ لمبې تـــــري خـــيژي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بــل محشر ته حاجت نه شته
قيامتونو كې مو شپې دي
دا د كــــوم ظالم له لاسه
چې ظلمونو كې مو شپې دي
*** ***
د كــابــل هــره كــوڅـه مو
ښكلي ښكلي خـــاطرې دي
اوس يې وران او ويجاړ كورم
كــړنګونو كې مــو شپې دي
دا د كـــوم ظالم لـــه لاسه
چې ظلمونو كې مو شپې دي
*** ***
زوړ او ځوان مو شهيدان شول
څوك بې پلاره څوك بې موره
د چا كور جوړ قـــبرستان شو
زيــــارتونو كې مو شپې دي
دا د كـــوم ظالم لـــه لاسه
چې ظلمونو كې مو شپې دي
*** ***
افغانان ټول تار او مار شول
څوك په كوزاو څوك په بردي
په وطن كې چې او ســــيږي
ماتمونو كې يې شپې دي
دا د كـــوم ظالم لـــه لاسه
چې ظلمونو كې مو شپې دي
*** ***
دا اسـلام پـــه تـــمه تـــمه
د كـــافرو كانـي وشـــوي
هــــيڅ تميز كـولاى نه شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په چــرتونو کې مو شپې دي
دا د کـــــوم ظالم لــــه لاسه
چې ظلمونو کې مو شپې دي
*** ***
دنـــــــیا ټــوله راته خاندي
موږ په چیغو چـــــیغو ژاړو
څه سپین سترګې دنیاګۍ ده
سیاستونو کې مو شپې دي
دا د کـــــوم ظالم لــــه لاسه
چې ظلمونو کې مو شپې دي
*** ***
افـــــغانی وطن به جوړ شي
که د خدای مــــــهربانـي وه
د پـــردو لاس بـــــه لنډ یږي
امـــــیدونو کې مو شپې دي
دا د کـــــوم ظالم لــــه لاسه
چې ظلمونو کې مو شپې دي
---------------------------------------
دا شعر په کال ۱۹۹۲ د نوید د جریې
په شپږمه ګڼه کې خپور شو.
سمیع الدین افغاني



ترجمه به دری از استاد محمد اسحاق برکت

## دوطن په یاد

## به یاد وطن

(c) ketabton.com: The Digital Library

په وطن مو جوړ ماتم دی
وطن ما ماتمسرا شده
تورتمونوکې مو شپې دي
در شبهای تار بسر میبریم
دا د کوم ظالم له لاسه
اینهمه از دست کدام ظالم است
چې ظلمونوکې مو شپې دي
که در مظالم شب را به پایان میبریم
*****
ګران وطن را ته سور اور شو
وطن محبوب بر ما آتش سوزان شده
د دوزخ لمبي تري خیږی
شعله های آتش جهنم ازان بر میخیزد
بل محشر ته حاجت نه شته
به محشر دیگري ضرورت نیست
قیامتونو کي مو شپي دی
شبهای خود را بسان روز رستاخیز بپایان میبریم
دا د کوم ظالم له لاسه
اینهمه از دست کدام ظالم است
چي ظلمونو کي موشپي دی
که در مظالم شب را بپایان میبریم
*****
د کابل هره کوڅه مو
از هر کوچه و برزن کابل عزیز ما
ښکلي ښکلي خاطری دی
خاطرات شیرین و زیبایی داریم
اوس یي وران او ویجاړ وینم
حال او را خراب و ویران مینگرم
ګرنګونو کي موشپي دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

در پرتگاههای بین مرگ و زندگی شب را میگذرانیم
دا د کوم ظالم له لاسه
اینهمه از دست کدام ظالم است
چي ظلمونوکي مو شپي دِي
که در مظالم شب را بپایان میبریم
*****
زوړ او ځوان مو شهیدان شول
پیر و برنای ما همه شهید شدند
ځوک بی پلاره ځوک بی موره
عده ای یتیم و عده ای هم یسیر شدند
د چا کور جوړ قبرستان شو
خانه های عده ای به گورستان مبدل گشت
زیارتونو کی مو شپی دی
در مزارات شب را بپایان میبریم
دا د کوم ظالم له لاسه
اینهمه از دست کدام ظالم است
چی ظلمونو کی مو شپی دی
که در مظالم شب را بپایان میبریم
*****
افغانان ټول تار او مار شول
افغانها همه تیت و پاشان شدند
ځوک په کور او ځوک په بر دی
کسی در خانه و بعض در صحرا و بیابان
په وطن کی چی او سیږی
آنهائی که در وطن به سر میبرند
ماتمونو کی یی شپی دی
شبهای شان در اندوه و ماتم است
دا د کوم ظالم له لاسه
اینهمه از دست کدام ظالم است

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی ظلمونو کی مو شپی دی
که در مظالم شب را به سر میبریم
*****
د اسلام په تمه تمه
به امید و آرزوی برقراری اسلام
د کافرو کانی وشوی
مگر اعمال کفرانه انجام دادند
هیخ تمییز کولای نه شو
هیچ تمییز کرده نمیتوانیم
په چرتونو کی مو شپی دی
شبها در فکر و چرت بسر میبریم
دا د کوم ظالم له لاسه
اینهمه از دست کدام ظالم است
په ظلمونو کی مو شپی دی
که در مظالم شب را بپایان میبریم
*****
دنیا ټوله راته خاندی
جهانیان همه بر ما میخندند
مونږ په چیغو چیغو ژاړو
ما با صدای بلند و زار زار میگرییم
څه سپین سترګی دنیا ده
چه دنیای دیده دراست!!!
سیاستونو کی مو شپی دی
در میان سیاستها زندگی میکنیم
دا د کوم ظالم له لاسه
اینهمه از دست کدام ظالم است
چی ظلمونو کی مو شپی دی
که در مظالم شب را به سر میرسانیم
*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانی وطن به جوړ شی
میهن افغانها ساخته خواهد شد
که د خدای مهربانی وه
اگر لطف و مهربانی خداوند باشد
(به لطف و مهربانی خدا)
د پردو لاس به لندیږی
دست بیگانگان کوتاه خواهد شد
امیدونو کی مو شپی دی
به امیدها شب را بپایان میرسانیم
دا د کوم ظالم له لاسه
اینهمه از دست کدام ظالم است
چی ظلمو نوکی موشپی دی
که در مظالم شب را بپایان میرسانیم.

ترجمه خواندن (متن) پشتو به زبان انگلیسی:
From Pashto to English – Date:1/3/2010
-----------------------------------------------

# د وطـــن پـــــه یـــــــاد

## In Memoriam of the Homeland

په وطـن مو جــــوړ مــــاتـــم دی
In our homeland we mourn
تــــــورتمـــونــــو کې مو شپې دي
We pass our time in darkness
دا د کــــوم ظــــــــــــــــالم له لاسه
Who's caused us this pain?
Who is this outlaw who has done this to us?
چې ظلمــونو کې مو شپـــې دي
Because of him/this we are living outside the law
*** ***

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګــران وطن راتـــــه سور اورشو
Our homeland has become uninhabitable
د دوزخ لمبی تـــــری خـــیـــږی
The fires of hell rise from it(the homeland)
بـــل محشـــــر تـــه حاجت نه شته
Judgment day is already here
قـيامتـونو کې مـــو شـــپـــې دي
We are already living it now
دا د کـــــــوم ظالـــم لـــه لاسه
Who’s caused us this pain?
Who is this outlaw who has done this to us?

چي ظلمونو کي مـــو شـــپي دي
Because of him/this we are living outside the law
*** ***
د کـــابـــل هــــــره کـــوڅـــه مو
Allies of our Kabul
ښــکلي ښــــکلي خـــــاطرې دي
Provide fond memories
اوس يـې وران اوويجاړګورم
but are now demolished and destroyed
ګـــړنګونو کـــي مـــو شپي دي
we are living in a crater

دا د کـــــــوم ظالـــم لـــه لاسه
Who’s caused us this pain?
Who is this outlaw who has done this to us?
چي ظلمونو کي مـــو شـــپي دي
Because of him/this we are living outside the law

*** ***
زوړ او ځـــوان مو شهـيدان شـــول
Both young and old have become martyrs
څـوک بــــي پلاره څوک بـې موره
parents suffer from the loss of their children
د چا کـــــور جوړ قـــــــبرستان شو
homes becoming graveyards    for some

زيــــــــارتونـــو کي مـــو شپي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

We live in houses of holy graves
دا د کـــــــــوم ظالــــــم لـــه لاسـه
Who’s caused us this pain?
Who is this outlaw who has done this to us?
چي ظــلمـــونـو کي مو شپي دي
Because of him/this we are living outside the law

*** ***

افغانان ټول تـــــار او مـــار شول
Afghans have been massacred
څوک پــــه کـــوز او څوک په بر دي
Scattered all over

په وطن کي چي اوســــــــيږي
Those living in the homeland
ماتــمونـــو کې یـــې شـپې دي
They are living in mourning
دا د کـــــــوم ظالـــم لــــه لاسـه
Who’s caused us this pain?
Who is this outlaw who has done this to us?
چي ظلمونو کې مــــو شپـــې دي
Because of him/this we are living outside the law
*** ***
د اســـلام پـــــه تـــــمه تـــــمه
In the name of Islam
د کـــــــــافرو کانـــي وشـــــوې
They behave unislammicly
هـــــــــــيڅ تميز کـــولای نه شو
We cannot recognise
په چـــرتونو کي مو شپي دي
We are living in contemplation
دا د کـــــــــوم ظالم له لاسـه
Who’s caused us this pain?
Who is this outlaw who has done this to us?
چي ظلمونو کي مو شپي دي
Because of him/this we are living outside the law
*** ***

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنـــــــــیا ته‌ـــوله راته خاندي
The world smiles at us
موږ په چیغو چــــــیغو ژاړو
Whilst we scream(Whilst we scream in anguish)
څه سپین سترګي دنیاګی ده
Look at this domineering world(Can you see this shameless world?)
سیاستونو کې مو شپې دي
We are living in a beaurocracy (Politics in everything)
دا د کـــــــوم ظالم له لاسه
Who’s caused us this pain?
Who is this outlaw who has done this to us?
چي ظلمونو کې مو شپې دي
Because of him/this we are living outside the law

*** ***

افـــــــغانی وطـن به جوړ شي
The Afghan home will be built
که د خدای مــــــــهــربانـــي وه
If God wills it to be the way
د پـــــردو لاس بـــــــــه لنډیـــږي
External (bad)influences will be severed
امـــــــیدونـــــو کـــې مو شپې دي
We live in hope until then
دا د کـــــــــوم ظــــالم له لاسه
Who’s caused us this pain?
Who is this outlaw who has done this to us?
چي ظلمونو کې مو شپې دي
Because of him/this we are living outside the law

---------------------------------------

Author Sameuddin Afghani
سمیع الدین افغانی ـ سعید افغانی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د وطــن پـــــه یــــــاد

ترجمه خواندن(متن) پشتو به زبان المانی:

# In Erinnerung an unser Heimatland

In unserem Heimatland leben wir in Trauer
In Dunkelheit verbringen wir unsere Zeit
Wer hat uns diese Schmerzen zugefügt ?
Wir ist der Gesetzlose, der uns dies angetan hat ?
Wegen ihm leben wir außerhalb des Gesetzes

Unser Heimatland ist unbewohnbar geworden
Die Feuer der Hölle lodern daraus empor
Der jüngste Tag hat schon begonnen
Wir leben ihn schon jetzt
Wer hat uns diese Schmerzen zugefügt ?
Wir ist der Gesetzlose, der uns dies angetan hat ?
Wegen ihm leben wir außerhalb des Gesetzes

Mit Freunden unseres Kabul
teilen wir lieb gewonnene Erinnerungen
die aber nun vernichtet und Zerstört sind
Wir leben in einem Krater
Wer hat uns diese Schmerzen zugefügt ?
Wir ist der Gesetzlose, der uns dies angetan hat ?
Wegen ihm leben wir außerhalb des Gesetzes

Junge wie alte sind zu Märtyrern geworden
Eltern leiden , weil sie ihre Kinder verloren haben
Für manche wird ihr Zuhause zum Friedhof
Wer leben in Häusern die heilige Gräber sind
Wer hat uns diese Schmerzen zugefügt ?

(c) ketabton.com: The Digital Library

Wir ist der Gesetzlose, der uns dies angetan hat ?
Wegen ihm leben wir außerhalb des Gesetzes

Afghanen wurden dahingemetzelt
in alle winde zerstreut
Diejenigen de im Heimatland leben
leben in trauer
Wer hat uns diese Schmerzen zugefügt ?
Wir ist der Gesetzlose, der uns dies angetan hat ?
Wegen ihm leben wir außerhalb des Gesetzes

im nama des islam
Das ist unislamische benehmen
wir können es nicht begreifen
und sinnen darüber nach
Wer hat uns diese Schmerzen zugefügt ?
Wir ist der Gesetzlose, der uns dies angetan hat ?
Wegen ihm leben wir außerhalb des Gesetzes

Die Welt lächelt uns an
Während wir vor Qualen schreien
Sieh dir diese tyrannische , schamlose welt an
Wer leben in einer Brürokratie in der sich alles um politik dreht
Wer hat uns diese Schmerzen zugefügt ?
Wir ist der Gesetzlose, der uns dies angetan hat ?
Wegen ihm leben wir außerhalb des Gesetzes

Die afghanishe heimat wird gebaut werden
wenn Gott es so will
Schlechte Einflüsse werden sich aufiösen
Bis dahin lebt die hoffnung in uns
Wer hat uns diese Schmerzen zugefügt ?
Wir ist der Gesetzlose, der uns dies angetan hat ?

(c) ketabton.com: The Digital Library

Wegen ihm leben wir außerhalb des Gesetzes

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**